**د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

**موضوع**: د رويال عزيزى لوژستيکي او تکنالوژي خدماتو شرکت ته د تړون ورکولو د پريکړې خبرتيا.

د تدارکاتو قانون د دري څلويښتمې مادې د دويمې فقرې سره سم، ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک په پام کې لري چې د افغانستان بانک د کارمندانو لپاره د معدني اوبو چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د رويال عزيزى لوژستيکي او تکنالوژي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 91947 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعيت يې د کابل شهرآرا برج ترڅنګ څلورمه ناحيه، کې دی. د تړون ټوليزه بيه/ 1,746,512 – يو ميليون اوه سوه شپږ څلوېښت زره پنځه سوه او دولس افغانۍ ده.

د حقيقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نيوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نيوکه په ليکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپريدو له نېټې تر اوو تقويمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمريت ته، چې په ابن سينا واټ کې موقعيت لري، وسپاري.

دا خبرتيا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړيدو به تړون نه عقد کيږی.